# د میرزا خان انصاري په شاعرۍ کښې د انساني ازادۍ تصور

# The Imagination of Human Freedom in the Poetry of Miraz Khan Ansari

Asal Marjan Muhib Wazir [1], Muhammad Kaleem [2]

Human liberty is an area of interest for a number of philosophical and religious aspects and thoroughly elaborated and expounded in throughout the history of mankind, yet in the present era Pukhtoon nation in the region is facing the problems of intolerance and narrowness. Keeping in view this situation of Pukhtoon nation, the current study is an attempt to find out and illuminate some parts of the human liberty and freedom in the poetry of a classical and well-known Pashto poet named as Mirza Khan Ansari. For this purpose, some significant parts of his poetry have been collected and presented through which the glory of his poetry will be highlighted and further an effort to deliver a positive message to Pukhtoon society about human liberty and freedom.

**Keywords:** Human Liberty, Golden era, Human Institution, Tolerance, Brotherhood, Humanity and Philanthropy.

انسان څۀ شے دے او د انسان څۀ د پاره جهان ته راغلے دے او د څۀ د لټون نه پس به د جهان نه چرته بل جهان ته کډه وړي ؟ دا ډېر مهم او بنسټيز سوالونه دي چې د موجود تاريخ په تسلسل کښې ئې فسلفې د ځوابولو هڅې کړې دي ۔

انسان د نړۍ په ټکې موجودو مخلوقاتو کښې يو ځانګړے مخلوق دے ۔ د زده کړې او روزنې توان لري ، د خپل اند او مافي الضمير د بيان جوګه دے ، ټولنيزې خوبۍ لري ، د مرستې او کومک جذبه لري ، اراده کښې په بشپړ ډول استقامت لرلے شي او تر ټولوزياته د خپل قسمت په

1 Director Pukhtonkhwa Study Centre, Bacha khan university Charsada
2 HOD Department of Sociology Bacha khan university Charsada

جوړولو کښې مکمل د اختیار خاوند دے (۱) - دغه مکمل اختیار او په ارادې کښې استحکام او استقامت ښودل د انساني ازادۍ یا انساني خپلواکۍ په معنا اخستل کېږي -

ازادي یو تکے دے چې معنا او مفهوم ئې د موقع او محل سره بدلېږي - ازادي د فارسۍ ژبې تورے دے چې قلندرمومند د ازاده ، ازادۍ او ازادېدن "د خپل مخ ، د خپلې خوښې ، د خپلې رضا ــــ خلاصے ، د قېدوبند مرئیتوب یا د بل د واک نه وتنه ، بې تکلفي ــ بې غمه کېدل " معناوې کړې دي (۲) - د ازادۍ د پاره په انګرېزۍ کښې دوه بېل بېل تکي کارول کېږي - Freedom اوLiberty چې وضاحت ئې انسائیکلو پیډیا آف سوشل سائنس څۀ داسې کړے دے:

> "Liberty and freedom are often used interchangeably. However, in common parlance, a distinction come made. Freedom is the more general term referring to a lack of restraint in all its manifestations. Liberty, in contrast, is typically used when discussing the political and legal aspects of the human condition, particularly those involving choice." (3)

ژباړه:په ښکاره خو خپلواکي او ازادي د یو رنګ معناؤ د پاره کارول کېږي ، خو د دواړو اصطلاحي معنې بېلې بېلې دي - خپلواکي (Liberty) په خپل ذات کښې یوه وسیع معنا لري چې هېڅ قسم پابندۍ نه زغمي - ولې بل اړخ ته ازادي (Freedom) اصطلاح هلته کارول کېږي چرته چې د وګړیو د سیاسي او قانوني حقونو یا حالاتو او دهغې د ځانګړنو موازنه کول وي -

Freedomپه مقابل کښې Liberated/Liberalismکښې دا خوبي ده چې دا د وګړي ځانګړتوب ته زیاته پاملرنه کوي او ټولنه هم په دې مجبوروي چې د وګړي (فرد) ازادي مقدمه وګڼي - د جان ګر ے په خیال ځانګړتوب(Individualism) ، مساوات (Equalism) ، افاقیت (Universalism) او اصلاحیت (Reformism) د لبرال ازم مهم توکي دي - (۴)

هر کله چې د وګړي ځانګړتوب مقدم وګڼل شي ، نو ځانګړتوب د انساني ارادې څخه رغونه مومي - انسان په خپله اراده کښې څومره ازاد د ے؟ او انسان ته د خپلې ارادې د تکمیل څومره ازادي ترلاسه ده؟ - دا هغه توکي دي چې یو انسان ځانګړ ے جوړوي - د انساني ارادې څخه د ازادۍ تروړل/ویستل/لرکول ېخي داسې دي لکه چې د انساني عملونو څخه ټول ټولنیز اخلاقیات وتروړل شي یا وویستل شي (۵) انساني ازادي په دوه ډوله ده - یو جسماني ازادي ده؛ کومه کښې چې انسان په جسماني توګه ازاد وي او تړل شوے نه وي یا کومه کښې چې انسان ته هغه ازادي ترلاسه وي چې

ښکاره په نظر راځي ـ دوېم فکري ازادي ده؛ چې د انسان سوچ ، فکر او روح پکښې ازاد وي ـ کله چې مونږ د دغه قسمه ازادئ خبره کوو نو د وجوديانو خبره مو مخې ته راځي چې وجود د روح نه مقدم دے ـ مقصد دا چې وجود پيدا شو نو ځان له به روح پخپله خوښوي ـ په نورو ټکيو کښې داسې وئيلے شو چې وجود څۀ جوړېدل غواړي؟ دا پرېکړه به وجود پخپله کوي ـ (۶) وجود يو صفا او سپين سپېځلے کاغذ وي ، د ژوند په تصويرونو کښې هغه کوم تصوير خوښوي؟ دا د وجود خپله خوښه ده ـ

د ميرزاخان انصاري شاعري که څۀ هم د بېلا بېلو اړخونو نه مطالعه شوې ده او يو شمېر نکتې ئې پښتنو لوستونکيو ته وړاندې کړې شوې دي ـ خو يو شمېر نورې داسې نکتې هم د دوي په شاعرئ کښې شتون لري چې څېړلو او سنجولو ته اړتيا لري ـ دغو نکتو کښې يوه اهمه نکته د انساني ازادئ هم ده ، کومه چې د ميرزاخان په شاعرئ کښې په نظر راځي ـ

بله مهمتيا ئې دا هم ده چې دا وښودل شي چې د انساني ازادئ دا تصور څنګه او په کومه د دوي شاعرئ ته رانووت ـ د انساني ازادئ تصور که زوړ روايت لري ولې دا په بنيادي توګه د يورپ د نشاه ثانيه د تحريک د لمنې نه راوتے دے ـ نو د ميرزاخان شاعري او د يورپ خصوصاً د فرانسوي دانش يو بل سره کومه اړيکه خو نه جوړېږي ؟

لکه څنګه چې مونږ د موضوع په پېژندګلو کښې د ازدائ تعريفونه او قسمونه په ګوته کړل او ټول مهم توکي مو ئې څرګند کړل او بيا مو د انساني ازادئ سره وتړل نو ښکاره شوه چې انساني ازادئ کښې ځانګړتوب بنيادي توکے دے ، کوم چې د انساني ارادې د ازادئ نه تشکيل مومي ـ مقصد هغه ازادي چې انسان په خپلو کړنو کښې مکمل ازادوي ـ په رياستي توګه هم او په ټولنيزه توګه هم ـ که څۀ هم مونږ دا خبره منو چې انساني تاريخ کښې داسې ټولنې يا دورونه به ډېر کم ياب وي چې وګړيو ته ذکر شوې ازادي پکښې ترلاسه شوې وي ـ په نورو ټکيو کښې داسې وئيلے شو چې دا يو قسم آئيډيل ازادي ده چې په وجود کښې راتلل ئې که ناممکن نه دي ولې ډېر ګران کار ضرور دے ، (البته په موجوده يوروپي ټولنو کښې ئې خال خال بېلګې په لاس راځي) ؛ خو که د بشر يا بشري ټولنې تاريخي ارتقاء په نظر کښې ونيول شي نو د تاريخ په هر دور کښې د لاس د ګوتو په شمېر

مفکرینو او فلسفیانو د دغه قسم ازادۍ خوبونه لیدلي دي او د هغو د تعبیرونو لټولو هڅې ئې هم کړې دي ـ

پښتو ادب یا پښتون قام کښې د انساني ازادۍ شرک او درک د پیر روښان د اثارو نه راڅخې ته کېږي چې روایتي ملایانو یا پیرانو د پښتون وګړي نه د مذهب په نوم دائرې تاؤ کړې وې ـ پیر روښان او د دوي ملګرو نه یوازې دغه ملان او پیران چېلنج کړل ، بلکې د هغوي په شا د مغلو مستحکم استعماري ریاست ئې هم چېلنج کړو او فردي او اجتماعي ازادۍ د ترلاسه کولو د پاره چمتو شو او ټینګ ګامونه ئې پورته کړل ـ (۷) خو په خپله د پیر روښان فکري پس منظر د معتزلینو ، د ابن رشد او د یورپ د نشاه ثانیه د فکر سره یو سمون خوري او هم دغه فکري پس منظر د میرزاخان انصاري هم کېدے شي ـ

میرزاخان انصاري (988-89هـ ـــــ ۱۰۴۰هـ) (۸) چې د روښاني مسلک یاد شاعر دے او د فن او تخیل په حواله یو پوخ شاعر بلل کېږي ـ د هغوي د فکر ، تخیل او فن رڼایي نه صرف د روښاني مسلک پورې محدوده ده ، بلکې په ګرده پښتو شاعرۍ کښې د یو ښۀ شاعر په توګه منلے شوے دے (۹) ـ د خوشحال خټک غوندې نابغه انسان ئې شعر په تله تللے ګڼلے دے (۱۰) ـ میرزا خان انصاري نه یوازې شاعر وه بلکې د خپل دور یو سپېڅلے مفکر او دانشور هم وو۔ دوي د خپل وخت ملا زده ټولنې ته ګټلي دي او د هغې په ترخ کښې ئې د مترقي شعور عام کولو بشپړ هڅه کړې ده ـ

میرزاخان انصاري د فلسفې سره ډېر د نزدې نه شغف لرلے دے ـ د وحدت الوجود چې بنیادي توګه د اسلامي فلسفې یوه څانګه ده ، خو منلے او پیاوړے شاعر او مبلغ یاد شوے دے، خو د دې سره سره ئې د انساني ذات سره تړلي نور بې شمېره داسې موضوعات چې فلسفه ته ورته دي، هم د خپلې شاعرۍ موضوعات ګرځولي دي ـ هسې هم یو شاعر د زماني او مکاني شعور او ادراک په مزي کلک تړلے وي ـ د څۀ نه چې د ټولنې وګړیو (لوستونکیو) ته د ژوند رڼا ترلاسه کېږي، د ژوند احساس مومي او د ژوند کولو او ژوند تېرولو په فرق پوهېږي او وګړے (لوستونکے) د خپل مکان یا زمان نه د بهر راوتلو هڅې کوي (۱۱) او په ګرد جهان کښې په وازو وازو ګټل شروع کړي او د انساني ازادۍ په خوند او رنګ پوهه شي ـ

انساني ازادي؛ د ژان ژاک روسو خبره چې انسان ازاد پیدا شوے دے ، ولې ټولنې په قدم قدم تړلے دے (۱۲) ـ د انسان دغه ازادي چې هغې کښې د علمي استعداد، عقل او فکر په زور پخې او کلکې ارادې جوړوي او د هغو ارادو د تکمیل د پاره په ازادانه توګه هلې ځلې کوي او ځان د پاره یوه نوې نړۍ جوړوي ـ د انساني ازادۍ دغه تلوسه او هڅه مونږ ته د میرزاخان انصاري په شاعرۍ کښې هم په نظر راځي:

هر قاصد چې د مقصود په لوري یون کا
رسمي مل به د نیمګړې لارې ستون کا
کم دلیل سړے له رسمه مقصود غواړي
چې طلب د مقصود نه کا ناقابل دے

د انسان د پاره تر ټولو د مخه یو مرام ، یو مقصد او یو هدف تا کل مهم دي او هغه مرام یا هدف ته د رسېدو نه سوا دې ورسره باید بله لاره نه وي ـ هېڅ یو طوفان ، هېڅ یو مشکل او هېڅ یو مصلحت باید چې انسان د خپل دغه مرام ته د رسېدو نه ونه نیسي ـ که هر څو ورنه رسمي یاران یا خپل خپلوان په نیمه لاره کښې پرېوځي یا پاتې کېږي ـ

د ازاد عزم او ارادې په اړه یو ځاے وایي:

اے میرزا د جاروتو فکر مې مه کړه
په تـمام اختیار وتلے یم له کوره

دغه شعر کښې چې میرزاخان انصاري د کومې پخې او کلکې ارادې څرګندونه کوي او خپل مرام او خپل مقصد ته د رسېدنې کوم هوډ ښکاره کوي ، هغه د میرزا د شخصیت نه هم پوره پوره پرده پورته کوي ـ مکمل کمټمنټ ، مکمل اودربدل او مکمله ټینګتیا ـــــ دا د یو انسان په ازادۍ باندې دلالت کوي چې میرزاخان انصاري په خپلو پرېکړو کښې او په خپلو خوښو او ناخوښو کښې څومره پورې ازاد او وا کدار وو او هېڅ قسم پېغورونه ئې د مخې خنډونه نه دي تصور کړي:

د اشنا په مینه ځان جهان شیندمه
نه چې ځان ساتم له ننګه له پېغوره

او د دغه ازادۍ د پاره یو داسې دروند دلیل راوړي چې د رد کولو ئې هډو توان نه پیدا کېږي:

له اوله ئې سبق و هر چا ور که
بیا په خپل اختیار هر څوک د ځان حاصل کا

چې اختیار مې تن په تن باندې وېشلے
د هر چا په خپله مینه استعداد کړم

هر زمان په خپل اختیار باندې قادر ئې
که و وقت وته بېدار اوسې کاردانه

کائنات ته انسان مکمل په خپل واک او اختیار سره راغلے دے ـ دلته میرزاخان انصاري په مکمل ډول د اسلامي فلسفې د معتزلینو د ډلې په حمایت کښې د اختیار او واکدارۍ علم پورته کوي ـ ( ۱۳)

میرزاخان انصاري د بل د لاربنودنې ، د نورو د محتاجۍ او په ړندو عقیدو پسې د تلګ په ځاے په جار د خپل عقل ، دلیل او برهان باندې زور راوړي:

اول عقل دې چراغ درسره واخله
ترو رهبر دې د دې لارې خپل دلیل کا

حق باطل ئې په تحقیق وځېله بېل کړه
د دې عقل په غلبیل کښې ئې وچانه

عقل په زور دلیل پیدا کړه او هغه خپل دلیل دې د لارې رهبر کړه ـ دا وړه خبره ده خو ډېره درنه خبره ده چې میرزاخان ئې پښتنو ته په هغه زمانه کښې کوي ، چرته چې د یورپ ټولې فلسفې لا د یورپ په جغرافیه کښې دننه تاوېدې راتاوېدې ـ دا د ابن رشد او ډیکارټ د تعقلي فلسفې یو ښکاره

نمونه ده چې د انسان د ازادۍ په لاره کښې بنسټیز کانـې دے (۱۴) ـ هر کله که انسان یا انساني ټولنه مونږ د عقل استعمال ته پرېښودو او د هغه عقل په زور جوړ کړي تدبیر ته مو پرېښودو او بیا مو د هغه تدبیر د ترلاسه کولو هوډ او اراده ونیوه او په مکمل واک سره مو مزل وکړو ، نو نوې نړۍ بېخي لرې نه ده ، خو د دغه نوې نړۍ د پاره که یو خوا ته اراده اړینه بولي ، نو بل خوا د عمل مېدان هم تود او ګرم ساتل غواړي :

په طلب ئې تـــر دیدنه پورې ورشه
په خالي نیت به دې خلاصه نشي غاړه

میرزاخان انصاري د انساني ازادۍ ډېر ښکاره مبلغ پاتې شوے دے ـ هغه د انساني واک ، اختیار او رضا په وړاندې هېڅ قسم قدغن نه زغمي ـ په دې لاندینې شعر کښې څومره په واضح انداز وایي:

اے میرزا له مرګه وړاندې مرګ دغه دے
که دا خپــله رضـا ووېښــې پر واړه

دلته وېښل ټکے کارول شوے دے چې مقصد ئې ښکاره دے چې که دا خپله خوښه په نورو تقسیم شي یا د نورو د پاره په خپله خوښه قدم کښېښودے شي ، لکه انسان چې د مرګ نه وړاندې ومري ـ مقصد دا چې خپله خوښه ، خپله رایې ، خپله ازادي او خپله خپلواکي په هر صورت د ځان سره ساتل دي او که دا درسره وه ، نو ژوند په ژوند حساب دے ، ګني دا په ژوندونـې مرګ دے ـ انسان سره چې علم ، عقل او پوهه وي، نو هغه د خپلې رایې او خپلې خوښې د قایمولو توان هم لري او په ځاے ئې د کارولو جوګه هم وي ـ میرزاخان انصاري د انسان د پاره د علم او عقل لرلو په ترڅ کښې په دې لاندینې شعر کښې انسان او حیوان په یوه علامتي بڼه کښې سره مقائسه کوي:

دا سرے په علم او عقل ښائسته دے
د حیوان هډو ماغزه شته ګوشت و چرم

هر کله چې يو څوک د انسان د ازادۍ په اړه زور او دليل راوړي ، نو د هغه هڅکله دا غرض نه وي چې دا ازادي دې يوازې ده ته ترلاسه وي ، بلکې هغه په اصل کښې د نورو انسانانو يا په بله معنا د انساني ټولنې غم خوري ـ هغه ګڼي چې په چاپېرچل کښې چې کومې ستونزې دي ، د دې ټولو حل يوازې په انساني ازادۍ کښې ده چې انسانان دې خپلې خوښې ته ازاد پرېښودل شي ـ خو د انساني ازادۍ نه مراد بېخي دا نه دے چې ګني رياست دې له منځه يوړل شي ، ټولنيز اقدار دې له منځه ورک شي او خانداني روايت دې له پامه وغورزول شي ـ د انساني ازادۍ نه مراد دا وي چې رياستي ، ټولنيز او خانداني چوکاټ کښې دننه دې هر انسان ته د پرمختګ لارې چارې د هغه د صلاحيتونو په اساس ور کړل شي ـ د زده کړو په ترڅ کښې دې انسان مکمل ازاد وي ، د علم په حصول کښې بايد په انسان کوم قدغن نه وي او د دانش ترلاسه کولو په ترڅ کښې دې د کوم بد روايت په وړاندې غلام نه وي ـ ميرزاخان انصاري وګړي ته د علم او دانش تلقين کوي او انساني ازادي د علم او دانش په رڼا کښې زبادوي:

د دانا د زړه عجبه روښنائي ده
د اسمان د زمکې مخ پرې منور شه

هر سړے چې د دنيا په چار عاقل دے
چې سړے پرې سړے کېږي عقل بل دے
د هغې وېنا معنا دلې سازېږي
چې سل سل نادان په هېڅ دانا په سل دے

دغه عقل او دانش دے چې انسان ئې ترلاسه کړي ، نو د نورو انسانانو غم هم ورته وشي او کله چې چا ته د بل انسان غم او درد محسوس شي او د نورو د خوښو او ناخوښو نه خبر شي ، نو دلته بيا انسان کښې د رواداري جذبه سر راپورته کوي او رواداري يو داسې عمل دے چې د انساني ازادۍ په وړاندې ټول خنډونه له مخې وړي ـ ميرزاخان انصاري په شاعرۍ کښې هم د روادارۍ نمونې په لاس راځي ـ دې نه پرته د دوي په شاعرۍ کښې د انساني ازدادۍ نور بېلا بېل توکي په ډېر ګڼ شمېر شتون لري او زمونږ د دې مقالې حوالې ګرځېدلے شي ، خو دلته ئې په دغه هيله په دې يو

څو حوالو اکتفا کوو چې د میرزاخان انصاري په شاعرۍ کښې د انساني ازادۍ تصور یو انځور به زمونږ لوستونکیو په وړاندې راغلے وي ـ

## پایله/نتیجه

میرزاخان انصاري د روښاني دور یو اهم شاعر دے چې د خپل دور په اړې ګړي ئې مکمل نظر وو ، کوم چې مونږ د هغه په شاعرۍ کښې وینو او تجزیه کوو ـ مونږ په خپله دغه لنډه مقاله کښې د دوي په شاعرۍ کښې د انساني ازادۍ تصور په ترڅ کښې یوه مطالعه وړاندې کړې ده ـ د انساني ازادۍ په اړه چې مونږ د دوي د شاعرۍ کومه مطالعه وړاندې کړه، د هغې په ترڅ کښې مونږ په دې پایله/نتیجه ورسېدو چې میرزاخان انصاري د انساني ازادۍ په بنیادي خدوخال خبر وو او د هغې په ترڅ کښې ئې د انساني ازادۍ یو داسې تصور وړاندې کړے دے چې هم د فلسفې سره سم دے او هم د مذهب سره متصادم نه دے او د میرزاخان انصاري دا کمال د دوي په ستر علم او فراخه مطالعه او وسیع نظریاتي کمټمنټ باندې پخپله یو لوے دلیل دے ـ

## ماخذونه


۱: آریانا دائره المعارف (وړومبے جلد) د افغانستان د علومو اکاډمي ، کابل، نبراسکا مطبعه، ۱۳۸۶ش، مخ: ۶۸۷

۲: قلندرمومند/فرید صحرائي ، دریاب ، پېښور ، این ۰ ډبلیو، ایف ۰ پي، ټېکسټ بک بورډ ، ۱۴۱۵هـ/۱۹۹۴ ، مخ: ۳۲

۳: WILLAM A. DARITY JR. International Encyclopedia of the SOCIAL SCIENCES, 2nd Edition, Volume 4, GALE CENAGE learning, New York-San Francisco- New Haven, conn- Waeville, Maine- London, page: 439

۴: فیاض ندیم، لبرل ازم اور مذهبی پسندون کا تصادم: ایک معاشرتی تخریب

۵: بھٹی، جاوید اختر، غلامے کا تصور، لاہور، فکشن ہاؤس، 2016، ص:80

۶: گورور جنیش، نئے دور کا انسان، مترجم: صفدر رشید، لاہور، دارلشعور مزنگ روڈ، 2010، ص:78

۷: مسعود ، سیف الرحمان ، پیر روښان او روښاني انقلاب ، پېښور ، یونیورسټي بک ایجنسي ، ۱۹۹۸ ، مخ: ۱۴۳

۸: خوېشکے ،پرویز مهجور ،ډاکټر، د مرزاخان انصاري دیوان، پېښور ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، ۲۰۰۴، مخونه: ج نه ط پورې

۹: خټک ، مغموم، یارمحمد، ډاکټر ، پروفېسر ، روښانیان او پښتو ادب ، پېښور ، پښتو اکېډېمي پېښور یونیورسټي ، ۲۰۱۱ ، مخ: ۴۶۸
۱۰: رسا، سیدرسول ، ارمغان خوشحال ،پېښور ، یونیورسټي بک اېجنسي ، دویم ځل ۲۰۰۱، مخ:۱۳
۱۱: ڈاکٹر،عبادت برےلوے،ادیب اورادبی قدریں،لاہور،ادارہ ادب و تنقید،1983،ص:21
۱۲: اریانا دایره المعارف (دریم ټوک) ، مخ: ۱۱۲
۱۳: اریانا دایره المعارف (شپږم ټوک) ، مخ: ۵۹۲
۱۴: قیصرالاسلام، قاضے،تاریخ فلسفہ مغرب(حصہ دوم)،کراچی، نیشنل بک فاؤنڈشن،۲۰۰۵،ص:۱۸۶